مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی
۲۰۲۶/۰۸/۱۵

# له ملغلرو ډک (کچکول)

زما په کتابتون کې ترېنځه سوه ټوکو زیات کتابونه پراته دي، چې له تیرو ( ۲۵) کالو راهیسې مې په کوټه ، کندهار، کابل او ننګرهار کې راټول کړی دي.

زما ټول دغه کتابونه د یو مناسب ځای د نه لرلو له امله په تاخچو ، بکسونو او د رپ پر سرو پراته دي

یو کتاب چې مې په کار وي، بیا نو یوه یا دوې ورځې راڅخه غواړي، چې پیدا یې کړم

ځینې وخت داسې لاهم سوي دي، چې یو کتاب مې دوه واره رانیولی، خو د کتابونو اړولو را اړولو پر وخت پوهیدلی یم، چې داکتاب خو تا ترمخه درلودی، نو بیا دې څه کاوه ، چې خوشمږي دې پر ورکړې ؟

یو څو کلونه ترمخه لا ښه وو، په ارګ بازار کې به مې تکراري ټوکونه او ډېر لوستلي کتابونه د ښاغلي استاد سید احمد قانع دوکان ته وړل او هغوی به په عوض کې نور کتابونه راکول، مګر افسوس، چې اوس دغه کارهم راباندي دربېدلی دی ، کتابونه په نقدو راکوي ، پور او د کتابونو الېشېدل یې له ډېره وخته بند کړي دي، خو زه کوښښ کوم، چې که په میاشت کې نه وي، نو په دوو میاشتو کې یو کتاب رانیسم او د مطالعې لپاره یې د خوب په خونه کې بالښت ته نژدې کښېږدم، ترڅو د مطالعې لپاره راڅخه په نورو کتابونو کې ګډ نه سي.

باور وکړئ ! ځیني کتابونه داسي وي، چې یو څو پاڼي یې وګورم ، ځینی نیمایي مطالعه کړم، د ځینو سرلیکونه وګورم اوځیني بیا داسي کتابونه هم په لاس راسي، چې یوازي یې پر رپ یا په کومه تاخچه کې یې له نورو کتابونو سره کښېږدم.

له نېکمرغه ځیني بیا داسي کتابونه هم په لاس راځي، چې له اهداء څخه تر ماخذو پوري یې څو واري مطالعه کړم او څو میاشتي زما له بالښت سره پراته او تاسي باور وکړی په هر واري لوستلو یې نه مړېږم او هر واري مطالعه یې ماته نوي معلومات په لاس راکوي.

کچکول هم یو له دغسي کتابونو څخه دی، چې ما څو واري لوستی، ان ځیني مقالي می یې په راډیو کې د ادبي خیروني اوریدونکو ته لاهم اورولي دي.

دغه کتاب دوه ټوکه دی، چې په ( ۲۰۱۰) میلادي کال کې د کندهار د اطلاعات اوکلتور ریاست لخوا دهغه وخت سرپرست رییس مرحوم عبدالقدیم پتیال له یادابښت سره د زر ټوکو په تیراژ خپور سوی دی.

کتاب خپله لیکوال کمپوز کړی او اهتمام یې استاد پوهنیار مطیع الله روهیال کړی دی.

لومړی ټوک ۲۲۴ مخونه لري، چې د پښتو ژبي محتاط لیکوال استاد معصوم هوتک پکښي ( ۲۳) رنګارنګ ادبي، څېړنیزي، تاریخي، ژبنیزي او نوري موضوعګاني د کچکول د اول ټوک لوستونکو ته وړاندي کړي دي.

د کچکول په اړه خپله ښاغلي معصوم هوتک د ( زما کچکول) ترسرلیک لاندي یونیم مخ لیکنه کړې، چې په یوه برخه کي یې داسي راغلي دي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

«ماچي پردې مجموعي باندي د کچکول نوم ايښي دی، مراد مي دادی، چي ددې مجموعي مطالب د ملنګ د کچکول په شان رنګارنګ موضوعات په ځان کي لري.

ځيني تاريخي بحثونه دي، ځيني يي ادبي، ځيني يي ژبنی ځيړني دي، ځيني يي نور تحقيقونه ، ځيني يي غمنامي دي، ځيني يي په درد خوري، ځيني يي تش توري دي، ځيني يي نوي خبري دي او ځيني يي د چاخبره زړې بابولالي .... »

که څه هم استاد په خپلو خبرو کي د( تش تورو او زړو بابولالو) په يادولو شکسته نفسي کړې ده، خو زه وايم،چي کاشکي دا ډول زړې بابولالي(!) او تشي خبري(!) موږ ته دايوشمير يوازي په نامه غټو ليکوالانو ليکلای او وړاندي کولای سوای!

که درانه لوستونکي پام وکړي په دې لومړي ټوک کي دغه مضامين راغلی، چي زه به يې يوازي په سرليکونو يادولو بسنه وکړم او تاسو به که ټول ونه واياست نو ستاسو له منځه به يو زيات شمير کسان له ځان سره ووايی، چي:

«کاشکي همدا نن دملغلرو دغه ډک کچکول مطالعه کړو.»

۱ :دوه شاعران ، پلار او زوی

۲ :شمس الدين غلجی او اثار يي

۳ :د احمدشاه بابا د ديوان لاسته راغلي يوه نوی قلمي نسخه

۴ :د ملا امير ديوان

۵ :د پښتو منهاج العابدين قلمی نسخه

۶ :عبدالرحمان زينداوری اود امالي قصدې پښتو منظومه ترجمه

۷ :سيد جمال الدين افغان د خپلو او پرديو له نظره

۸ :پښتو غزل يتيم سو

۹ :د ميرزاخان انصاري د ديوان يوه زړه قلمی نسخه

۱۰ :تحفه الاسلام

۱۱ :د غزنين په نامه د هنري جورج راورتي نوی اثر

۱۲ :د سراج الاخبار د ليکونکي تخلص کاتب دی، نه کاتب الحروف

۱۳ :په افغانستان کي د ښوونې او روزني لنډه تاريخچه

۱۴ :مسلمانان په قبرو کي دي، مسلماني په کتابو کي ده

۱۵ :د ادبي کره کتني يو لنډ جاج

۱۶ :پښتو لنډی ، نه جاپاني هايکو ده ، نه پارسي طرح

۱۷ :وياړونه ميوندونه

۱۸ :په روښاني غورځنګ کي د کندهار ونډه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

۱۹ :په اتلسمه پیړۍ کې په اصفهان کې د مسیحي سیاح یادابښتونه

۲۰ :دوه ورک دفترونه

۲۱ :په ( پښتو ) یې وکاږم که پر ( پښتو ) ؟

۲۲ :ټکی په ټکی ژباړي – تلفظي بېخوندي

۲۳ :ښاغلی حشمت خلیل غبار حقایق تحریفوي

د کچکول دوهم ټوک هم د اول ټوک په ډول ( ۲۲۴ ) مخونه لري او د زر ټوکو په تیراژ په همدغه ( ۲۰۱۰ ) میلادي کال د کندهار د اطلاعات او فرهنګ ریاست لخوا پر اخباري کاغذ خپورسوی دی.

ددغه ټوک کمپوز هم ښاغلي معصوم هوتک کړی او د اهتمام چارو ته یې بیاهم ښاغلي استاد روهیال اوږه ورکړې ده.

د کچکول دوهم ټوک هم د اول ټوک په څېر له خورا قیمتي ملغرو ډک دی.

په دغه ټوک کې د درانه استاد ( شل ) بیلا بیلي مقالي رایوځای سوی دی، چي غواړم دلته هم دشل واړو مقالو یوازي سرلیکونه له تاسو سره شریک کړم او تاسو خپله قضاوت وکړئ، چي استاد پر څونده مهمه موضوعګانو قلم چلولی دی.

۱ :د ( خیرالبیان تنقیدي مطالعه ) د نقاد په نظر

۲ :د ( ځ ) توري تاریخي پسمنظر

۳ :د میرزا حنان بارکزي په شعرکي تعمیه

۴ :شیرحاجه – شیرحاجي – شیرحاژه، شیرحاژي ( ددغه لغت څېړنه )

۵ :په سراج الاخبار کي پښتو نشرات

۶ :مخزن افغاني او په هند کي د پښتنو واکمنانو په باب تاریخي منابع

۷ :کوچیان اود هغوی د تلو راتلو لرغوني لاري

۸ :د احمدشاه بابا د دیوان نوی چاپ

۹ :د خطي زېرمو لوټیده ملي اونه جبرانیدونکي ضایعه ده

۱۰ :پوهنځی که پوهنزی؟

۱۱ :د پښتو قاموسونو په باب لنده څرګندونه

۱۲ :بیاهم پښتو قاموسونه

۱۳ :د نادراباد او دشت لکان په باب یوڅو توضیحي خبري

۱۴ :ماته صاحب تر صیب غوره ایسي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

۱۵ :جګړه ماري ډلي خپل خیر د تعصبوبونو په ژوندي کولو کي ویني

۱۶ :په اوسنیو شرایطو کي سوله اولویت دی

۱۷ :د لویانو یاد

۱۸ : اماني عصر او لویي جرګي

۱۹ :د ادب پر تاخت ناست ټولواک

۲۰ :شهید مولوي عبدالغفار بریالی اود هغه ( جزییات)

د کچکول په دواړو ټوکونو کي هره چاپ سوې مقاله او مضمون ځان ته ژوره څېړنه او لوستنه غواړي

ددغسي مهمو مقالو لوستل د ټولنیزو څانګو پر محصلینو سربېره دزده کوونکو، ښوونکو او استادانو لپاره ځکه اړین دي، چي د مطالعي پرمهال یي لوستونکي له خورامهمو موضوعګانو او نویو خبرو سره مخامخ کیږي.

که څه هم د ( کچکول) مقالي پر مسلکي او څانګروموضوعګانو لیکل سوي، خو د وړاندي کولو ژبه یي عام فهمه او روانه ده، چي دغه سلاست یي زما غوندي د نویو لیکوالانو لپاره د خورا معتبرو ماخذونو ترڅنګ د معیاري مقالي لیکلو لاري چاري هم روښانوي.

د (کچکول) د اکثرو مقالو وروسته تقریبا یو نیم مخ یا هم دوه مخونه لمنلیکونه راغلي دي، چي په دغو واضح لمنلیکونو کي د مقالي په اړه راغلی وضاحت لوستونکي نور هم د موضوع تل ته بیایي.

زه خو وایم، که چیري دغه ډول مغتمني لیکني ملنګي او علمي کتابونه کچکولونه وي، نو ما دي هم خدای د دغسي له ملغلرو ډکوکچکولونو لرونکو ملنګانو په شاګردانو کي حساب کړي، ځکه په اوسمهال کي زموږ اوړدو جګړو ځپلي ټولنه تربل هر وخت دغسي پر معنوي تخت ناستو ملنګانو او له ملغلرو ډکو کچکولو ته ډېره اړتیا لري.

استاد معصوم هوتک یوازي د شل یاځلوېښتو مقالو لیکوال نه دی، بلکي خپل پوهیدلی ژوند یي ټول په لیکوالی کي تېرکړی دی.

هغه د افغان ولس پر روانو حالات سرمني اوښکي توی کړی دي

د ولس د ښېرازی لپاره یي د پیژندل سوي افغان لیکوال، شاعر او ژورنالیسټ مولوي صالح محمد هوتک پاشلي ویناوي راټولي کړي دي.

د پښتو ادب او تاریخ وهابیانو ته یي د پټي خزاني په باب قانع کوونکي دلایل د ( پوخ کاني) په بڼه وړاندي کړي دي.

پردي او خپلوان یي په احمدشاهي کندهارکي کوڅه په کوڅه لاسنیولي له ځان سره ګرځولي دي.

د پښتنو د اصل او نسب په اړه یي پښتني قبیلي او شجری راته ښوولي دي.

لوستونکي یي د کندهاریانو له ښکاري میني په بشپړه ډول خبر کړي او د اکثرو کورنیو او وحشي مرغانو د نومونو او نورو اړوندو په اړه یي چي په کندهارکي یي خلک پیژني د( ښکار او کندهار) په نامه له ورکیدو خوندي کړي دي.

د پښتو ژبي دغه محتاط لیکوال او شاعر د شعر په نازکه ژبه د خپلو خلکو په غم کي خورا ډیري (شپې روڼی) کړي دي

د افغانستان په تاریخ کي د یو ډېرمهم باب ( هوتکو) د دوری په لسهاوو میرني او میرنی یي( په سل پګړی او یو پوړني) کي راپیژندلي دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

استاد خپلي مورنی ژبي ( بودا پیسټ) ته بیولی ، د تاریخ له پانو څخه یي ( کندهاري ورونه او کندهاري سرداران) رامعرفي کړي دي.

له ( ادیب شېخ) سره یي اشنا کړي یو، د علامه حبو اخوند زاده د( درني کورنی ) حال یي راسره شریک کړی دی.

( شین سترګي) مستخدمین یي پټ نه دي پرې ایښي

لنډه داچي زموږ درونډ استاد پر (احمدشاهي شهنامه ) سربیره یي د میرزاحنان بارکزي، لوی احمدشاه بابا، د ملا میران، عبدالرحیم هوتک، د پیرمحمد کاکړ معرفت الافغاني ، د ادم خیشکي، شمس الدین کاکړ، د اروابناد ښپنوا ( میرویس نیکه) د دوست محمد خټک بحرالعلوم او ځیني نورو دیوانونو او اثارو یي سریزي، لغتنامي، متن سمونه ، لمنلیکونه ، پیژندنه او تعلیقات اود ځینو خو یي ترتیب او مقابله هم په پوره دقت سرته رسولي ده.

(له کندهاره تراټکه، پښتو متون سمېدل غواړي، د مخلص کندهاري د کلام لغوي ژېړمه

د علامه رشاد جغرافیایي یاداښتونه ، د ناوي دانشور، زر او یوه شپه ) او ځیني نور هغه مغتنم اثار دي، چي پښتو او پښتانه ژوندي وي، په دغو اثارو به خپله تنده ماتوي.

زه خپلي خبري د استاد د اوږد صحتمند ژوند په هیله پای ته رسوم ، چي دغسي نور علمي اثار هم د پښتو ژبي د لا بډاینې په موخه وړاندي کړي.

امین

ستاسو له توجه مننه

نوټ : دغه مقاله په کندهارپوهنتون کي د استاد معصوم ویاړ غونډي ته لیکل سوې او لوستل سوې ده.

۳۰ – اپریل – ۲۰۱۹

کندهاربنار اطلاعات او کلتور ریاست


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ